# د افغانستان وضعیت کې د جندر تحلیل او ارزونه

## د ۲۰۲۲ د جون میاشت

## پېژندنه

د ۲۰۲۱ کال اګست میاشتې تر واکمنېدو وروسته، طالبانو پخپلو تګلارو او عملي چلندونو کې د ښځو د بشري حقونو د کمزوري کولو لړۍ جاري ساتلې، د جندر پر بنسټ پې منظم تبعیض پرمخ وړی، زده کړو او روغتیایي اسانتیاوو ترلاسه کولو، ازاده ګرځېدو راګرځېدو او غونډو جوړولو په وړاندې یې ډول ډول محدودیتونه لګولي دي او ورځ تر بلې پې د سختو فرمانونو له لارې په سیاسي او اقتصادي ژوند کې د خلکو د مشارکت حق مخه نیولې ده[1]. په وروستیو محدودیتونو کې لاندې موارد شامل دي:

- **زده کړې ته لاسرسی:** د مارچ په ۲۳مه، طالبانو ښوونځیو ته د شپږم ټولګي نه پورته نجونو ته د تلو اجازه ور نکړه. دا د نجونو د ثانوي زده کړو د بیا پرانېستلو په وړاندې د هغې ژمنې ماتول و، چې د ۴۸ ساعتونو څخه په کمه موده کې ورکړل شوې وه[2].
- **ازاده ګرځېدل راګرځېدل:** د مارچ په ۲۷مه، د هېواد څخه بهر ته له محرم پرته د ښځو پر سفر بندېز ولګول شو او دا فرمان د هغو مخکنیو فرمانونو پسې صادر شو، چې د افغانستان دننه او د کور څخه ۷۵ کیلو متره د سفر او ارتیا وړ نورو وختونو پر مهال یې د ښځو لپاره د محرم لارښوونه کړې وه[3].
- **د بیان ازادي، فردي څان بساینه او دیني عقیده:** د مارچ په اومه، طالبانو په عامه ځایونو کې د ښځو د مخ پټولو (حجاب) فرمان صادر کړ او ورپسې بل فرمان کې یې له ښځینه خبریالانو نه وغوښتل، چې د خبرونو نشر پر وخت خپل مخونه پټ کړي[4].

د مارچ په ۱۷مه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما) د ماموریت د تمدېدلو له پرېکړې څخه وروسته، طالبانو سملاسي وروستیو کړنو باندې لاس پورې کړ. له نیکمرغه، دغه نوي ماموریت ته د ښځو حقونو اړوند د غښتلو احکامو په شمول د ښځو بشري حقونو مدافعینو په وړاندې د سرغړونو اړوند د راپور ورکولو دنده وسپارل شوې ده او دغه راز تري جدي غوښتل شوي، چې پخپلو ټولو چارو کې د جندر بېلابېلو اړخونو ته پام وکړي[5]. که څه هم د ښځو حقونو په وړاندې د پرله پسې محدودیتونو په غبرګون کې د امنیت شورا دوه مطبوعاتي اعلامیې خپرې کړې. لومړی، د مارچ په ۲۷مه، د نجونو زده کړو د مخنیوي په اړه اندېښنه څرګنده کړه او د دې پرېکړې د بېرته اخېستو غوښتنه یې وکړه[6]. د مارچ ۲۴مې، مطبوعاتي اعلامیه کې د ښځو حقونو د لا خرابېدو او په ځانګړې توګه په عامه ځایونو کې د ښځو مخ پټولو په اړه اندېښنه ښودل شوې وه او د دغو فرمانونو د بېرته اخېستو غوښتنه یې وکړه[7].

دغه لنډه څېړنه د خبرتي او پراختیا سازمان د "واوره" نوښت په بنسټ ترسره شوې ده[1]. د ۲۰۲۱ کال د اګست څخه را وروسته، د لومړي ځل لپاره د ۲۰۲۲ کال د مې میاشت په بهیر کې د افغانستان له نهو[2] ولایتونو نه د ۵۳۲ ښځو سروې ترسره شوه ترڅو د بشري مرستو او په هېواد کې د روان وضعیت په اړه خپل نظرونه وړاندې کړي.[8] د دې نظر پوښتنې اصلي موندنې ښيي، چې د خوړو کړکېچ په تولېزه توګه د میرمنو لپاره خورا مهمه موضوع ده؛ خو د دوی حقونو لوېدنه لا هم جدی اندېښنه ګڼل کېږي، په ځانګړې توګه د هغو کسانو پر ژوند یې ډېر اغیز کړی، چې عمرونه یې د ۱۸ تر ۲۵ کلونو دي. دغه څېړنه کې د بېلابېلو موضوعاتو لکه غذايي خوندیتوب او کار ته لاسرسی، د ښځو حقونو او امنیت په اړه د ښځو نظرونه را اخېستل شوي دي.

## غذايي خوندیتوب او کار ته لاسرسی

"دوی [...] موږ قفس کې اچوي." — د سروې برخه اخېستونکې، ۲۰۲۲ مې میاشت

سروې کې موندل شوې ده، چې بشري ناورین، په ځانګړ توګه د خوړو نه خوندیتوب د ښځو لپاره تر ټولو د اندېښنې وړ موضوع ده او ۹۵ سلنه نفوس او نږدې ۱۰۰ سلنه د ښځو په مشرۍ کورنۍ له لوږې سره مخ دي. که څه هم بشري مرستې تر ۲۴.۴ میلیونو خلکو پورې رسېدلې دی؛ خو بیا هم د خوراکي توکو بیې لوړې پاتې دی. د مثال په ډول ویلی شو، چې د غنمو بیه د افغانۍ د ارزښت له کمېدو، تورم، اوچکالۍ او د اوکراین جګړې له کبله ۵۰ سلنه پورته شوې ده.[9]

بله تر ټولو مهمه موندنه دا وه، چې نږدې ټولو برخه اخېستونکو په یوه خوله د کاري وضعیت یا موقعیت د پاملرنې پرته بشري مرستو ترلاسه کولو برخه کې ننګونو ته اشاره کړې، ۳۱ سلنه ویلي، چې د دوی په ټولنه کې هیڅ یوه ښځه له دغو مرستو نه ده برخمنه شوې او ورته وخت کې ۵۰ سلنه ویلي، چې یو شمېر ښځو اړینې مرستې ترلاسه کړې دي.[10] یوازې ۰،۹ سلنه برخه والو ویلی، چې ټولو اړمنو میرمنو بشري مرستې ترلاسه کړې دي.[11] له دې معلومېږي، چې د بشري مرستو ترلاسه کولو پر وړاندې خنډونه ډېر دي او په سیمه ییزو شرایطو پورې اړه لري او یوازې یو شمېر مرستې تر اړمنو سیمو رسېدلې دي.

---

[1] واوره یو دیجیټلي نوښت دی، چې د څېړنې او پراختیا بنسټ لخوا رامنځته شوی او په منظم ډول هره میاشت د اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو، او امنیتي موضوعاتو په تړاو د ولایتونو څخه د افغان ښځو نظرونه او وړاندېزونه راټولې او په نړیوالو بحثونو کې یې شاملوي ترڅو د افغانستان په اړه ټولو مهمو پالیسیو کې د افغان ښځو نظرونه په پام کې ونیول شي.

[2] د ولایتونه نومونه: بامیان، بلخ، بغلان، دایکندی، فراه، فاریاب، هرات، جوزجان او کندهار.

بېکاري هم یو له جدي اندېښنو څخه ګڼل شوې ده. نږدې ۱۷ سلنه برخه والو ویلي، چې اوزګار دي او کومو هغو چې ویلي دنده لري؛ هغوی هم د تنخوا ترلاسه کولو او کار لپاره د سفر کولو په اړه بې باوري ښودلې ده. د طالبانو ګڼ شمېر فرمانونو د کور څخه بهر د ښځو په کار کولو او سفر کولو مخه نیولې ده او دا دواړه د ښځو د کار کولو په وړاندې تر ټولو ستر خنډونه ګڼل کېږي. په دولتي ادارو کې د ښځو کار کولو محدودیتونو برخه کې فرمانونه او نارسمي محدودیتونه په ځینو سیمو کې په ټولو ښځو یوشان نه پلي کېږي.[12] د نړیوالو مرستندویو سازمانونو او د روغتیا پالنې اړوند ښځینه کارکوونکو ته د کار کولو اجازه ورکړل شوې ده؛ خو کوچنیو سوداګرو مېرمنو ته دا اجازه نه ده ورکړل شوې.

د طالبانو لخوا د ښځو پر ګرځېدو راګرځېدو، کارموندنې او زده کړو محدودیتونو له کبله د اقتصادي وضعیت اغېزې او بشري مرستو ترلاسه کولو ننګونې لا پسې ډېرې کړې دي. زیاتره وخت په سیمه کې د ښځو مدني ټولنې ډلو خپلو ټولنو ته لازمي مرستې برابرولې؛ خو اوس هغوی هم په خپلواکه توګه فعالیت نه‌شي کولی، او له دې سره پر نړیوالو سازمانو د اتکا کچه لوړه شوې، چې دا چاره به د ځینو سیمه ییزو بشري او مرستندویه جوړښتونو د له منځه وړولو لامل شي.

## د ښځو حقونو لوېدنه یا شاتګ

> "له دې چې ښځه یم د ګناه احساس کوم." _ د سروې برخه اخېستونکې، ۲۰۲۲ می

د سروې موندنې ښیي، چې د ښځو حقونو په تړاو د طالبانو فرمانونو د افغان ښځو پر ژوند مستقیم او ځانګړې اغیز درلودلی دی. د تېرو څو میاشتو په لړ کې د طالبانو صادر شوي فرمانونو د ۱۸ تر ۲۵ کلونو عمر لرونکو ښځو پر ژوند منفي اغیز کړی دی او دوی یې د غذايي خوندیتوب نه هم ډېر دا موضوع اندېښمن کړې دي.[13]

د طالبانو لخوا دغه ډول کړنې د افغان ښځو لپاره د حیرانتیا وړ نه دي. د ۲۰۲۱ کال د جولای میاشت د څېړنې او پراختیا دفتر لخوا ترسره شوې سروې کې تر ۷۰ سلنه ډېرو برخه والو ویلي و، چې طالبانو وار د مخه د ښځو د حقونو د محدودولو برخه کې ګامونه اخېستي او د جامو اخېستو، د محرم پرته د ښځو سفر، د ښځو د کارکولو، او روغتیايي اسانیتاوو ترلاسه کولو برخه کې محدودیتونه لګولي دي.[14] دغه خنډونه او محدودیتونه تر ډېره بریده هماغه د ۱۹۹۶ کلونو سره ورته دي. یو میاشت وروسته، ۶۵ سلنه ښځو ویلي و، چې د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې د ښځو ژوند ډېر خراب دی او زیات شمېر لومړني او ثانوي ښوونځي د نجونو پر مخ تړلي دي. [15]

بېلابېل فکټورونه کولای شي، چې د طالبانو له خوا د لګول شویو بندېزونو اغېز نور هم پسې خراب کړي. لومړی، تطبیق کې یې همغږي نشته او د اټکل وړ نه دي، چې دا هم د طالبانو د معمولو پالیسیو برخه ده. د مثال په ډول، د طالبانو بېلابېلو مشرانو له خوا فرمانونه ورکول کېږي او د اعلانولو او خلکو ته د رسولو لپاره یې یوه مرکزي ادرس نه‌شته. لکه څنګه چې د سروې برخه والو ورته اشاره کړې وه، چې د دغو فرمانونو د نه پلي کولو اړوند د مجازاتو څرنګوالي او څنګوالي په اړه هم وضاحت نه‌شته. [16] دغه فرمانونه زیاتره وخت د لاربښوونو په قطار کې راځي؛ خو بیا هم د یو شمېر سیمه ییزو چارواکو له خوا د قانون په څېر پلي کېږي. همدا د وضاحت نشتون طالبانو ته اجازه ورکوي، چې دغه بندېزونه د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ډول ډول پلي کړي، د مثال په ډول، چېرته چې د طالبانو حاکمیت پیاوړی ده، هلته یې په کلکه پلي کوي. خو کابل کې چې ډېر ملاتړي نه لري او د رسنیو شتون هم زیات دی؛ نو احتیاط کوي او خپل فرمانونه ورو پلي کوي. دغه کړنلاره احتمالي انعطاف ښکاره کوي او طالبانو سره د دې ادعا په کولو سره مرسته کوي، چې ګوندی د جوړجاري لپاره ځای شته او له نړیوالې ټولنې سره د راتلونکو خبرو اترو لپاره ور پرانیزي او د مشروعیت ترلاسه کولو هڅه جاري وساتي.

دوهمه دا چې، د هر نوي محدودیت سره افغان مېرمنې د هغو معیارونو برخه کې تدریجي کموالی ویني، چې طالبان باید د بشري حقونو د اساسي معیارونو د خوندیتوب په توګه ترینه ساتنه وکړي. د مثال په ډول، د ۲۰۲۱ کال سپټمبر کې، د ښځو بشري حقونو ډلو غوښتنه دا وه، چې د بشري حقونو معیار وساتل شي؛ خو اوس د طالبانو د فرمانونو له کبله دغه غوښتنې کې توپیر راغلی او د سفر اساسي ازادۍ او د عاید ترلاسه کولو پر محور راڅرخي.

درېیم، د ځینو افغانانو انګېرنه دا ده، چې افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما) د بشري حقونو روانو سرغړونو لپاره د طالبانو د عامه حساب ورکولو پرځای له هغوی سره خپل سیاسي ښکیلتیا ته لومړیتوب ورکړی دی. دغه نظر د یوناما د عامه ارتباطاتو څخه معلومېږي او طالبانو ته له حده ډېر درناوی پکې لیدل کېږي او داسې ښکاري چې په ټول هېواد کې د امنیت او ټیکاو ټینګښت په اړه د طالبانو ادعاوې لېږدوي پرته له دې چې د فزیکي امنیت راوستولو په لارو چارو او د بشر اساسي حقونو محدودیتونو ته اشاره وکړي.

څلورم، افغان ښځو په حقیقت کې د دغو راز بندېزونو وړاندوینه کړې وه او په همدې توګه د تحلیلي ملاتړ او بندېزونو څار ټیم په راپور کې هم اشاره شوې وه، چې طالبان د خپلو تګلارو د بدلولو او د کړو ژمنو د ماتولو اراده لري.[17] د ۲۰۲۱ جولای میاشتې کې د سروې برخه والو ویلي و، چې د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې د ښځو پر سفر، کار کولو، او بیان ازادۍ برخه کې ورته سخت بندېزونه لګول شوي دي. دا موضوع ښکاره مثال دی، چې طالبان د خپلو لیکو پیاوړې کولو او خپلمنځي یووالي په لټه کې ده او دغه ډله ایدیالوژیکي تمایل لري او د بدلون یا نرمښت جوګه نه دي.[18] نو د همدې لپاره باید حېرانوونکې نه وي، چې د واک ترلاسه کولو سره به طالبان د نړیوال مشروعیت ترلاسه کولو، کنګل شویو شتمنیو ترلاسه کولو او د بندېزونو لرې کولو په ګډون به خپلمنځي یووالي ته تر بل هر څه لومړیتوب ورکړي.[19]

## ټیکاو او امنیت

د سروې حیرانوونکې موندنه ښیي، چې د نورو اندېښنو په پرتله ټولیز فزیکي امنیت د ښځو لپاره چندان لومړیتوب نه درلود. [20] دا په داګه کوي، چې د هېواد په ځینو برخه کې د طالبانو د وسله والو بریدونو پخوانۍ کچې بندېدل په افغانستان کې د ښځو په فزیکي خوندیتوب او امنیت برخه کې بنسټیز اغیز لرلی دی. دغه راز مهمه ده، چې اقتصادي امنیت او معیشت له لاسه ورکولو او د بنسټېزو حقونو محدودولو په مقابل کې د نسبي فزیکي خوندیتوب او امنیت سره پرتله کړو. د فزیکي امنیت او بشري حقونو تبادله کولو سره افغانانو د تېروکلونو راهیسې ښکاره مخالفت څرګند کړی او لکه څنګه چې د دې او نورو وروستیو سروې ګانو کې جوته شوه، چې د بشر اساسي حقونو ترلاسه کول تر ټولو مهم لومړیتوب دی.[21]

د یادونې ده، چې د سروې پایلې د ټول هېواد بشپړ انځور نه وړاندې کوي. د هېواد په ځینو سیمو کې ښځو ته نه لاسرسی دا بیانوي، چې که څه هم د ځینو ښځو لپاره امنیت ښه شوې؛ خو د ځینو نور هغو لپاره بدتر شوی دی. د مثال په ډول، د هېواد له هغو سیمو ګډونوال د پام وړ لږ و، چې هلته هزاره ګان، شیعه ګان او صوفیانو ژوند کوي او دغه راز هغو سیمو کې چې د ملکي کسانو په وړاندې د بریدونو لړۍ دوام لري. [22] په دغو سیمو کې نارامي د طالبانو د بریدونو او هغو نورو وسله والو ډلو له خوا ده، چې طالبان ورته اجازه ورکوي او خپله طالبان نه په نښه کېږي. د تحلیل ملاتړ او بندېزونو د څارنې ډلې د وروستي راپور (۱۲۶۷/۱۹۸۸) له مخې، د القاعدې[23] په ګډون نورو وسله والو ډلو ته د خوندي پټنځایونو او د ازادو فعالیتونو چانس ډېر کړی او دغو ډلو ټېلو ته یې د روزنیزو کمپونو بیا جوړولو او دغه راز پر بېلابېلو ټوکمونو باندې د بریدونو زمینه برابره کړې ده.[24]

## سپارښتنې

- بشري مرستو ته د ښځو او په ځانګړې توګه د ښځو په مشرۍ کورنیو خوندي، برابر او له خنډ پرته لاسرسی تضمین کړئ. د دې کار ترسراوي لپاره باید ټولې بشري چارې د جندر تحلیل پراساس ترسره شي ترڅو د لاسرسي لپاره خنډونه په ګوته شي او د حل لپاره یې سپارښتنې وړاندې شي.

- نړیواله ټولنې باید د طالبانو سره هر راز راتلونکې ښکېلتیا د بشر حقونو معیارونو او د دغو وروستیو فرمانونو د بېرته اخېستو په مقابل کې مشروطې کړي. دغه غوښتنې باید دوامداره او علني بڼه بیان شي او په پالیسیو کې ترې ملاتړ وشي. نړیواله ټولنې باید له طالبانو نه د لږ معیارونو غوښتنه و نه کړي او د بشري حقونو د مکلفیتونو څخه د سرغړونې حساب ورکولو څخه ځان ډاډه کړي. تر اوسه د نړیوالې ټولنې پر له پسې هڅو د طالبانو پالیسیو کې بدلون نه دی راوستی او غړي هېوادونه باید له خپلو شتو امکاناتو کار واخلي او طالبانو ته وښایي، چې د دوی د چلند ملاتړ نه کوي.

- نړیواله ټولنې باید د یوناما او افغانستان کې د بشري حقونو ځانګړي راپور ورکوونکي په شمول د جندر پراساس بشري حقونو څار او راپور ورکولو میکانیزمونو پیاوړتیا لپاره بشپړ سیاسي ملاتړ او مناسبې سرچینې تضمین کړي او  همدارنګه د حساب ورکولو ملاتړ لپاره د خپلواکو میکانیزمونو رامنځته لپاره لا ډېرې هلې ځلې وکړي.

- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا لګول شوي بندیزونه باید په دقت سره وڅېړل شي او په بشپړ ډول بیا پلي او پیاوړي شي که چیرې د ښځو پر حقونو محدودیتونه دوام ومومي. د طالب یو شمېر ځانګړو مشرانو څخه د ۱۹۸۸ کال بندېزونه د دې لپاره لرې شول، چې د ۲۰۲۱ کال اګست څخه مخکې د سولې خبرو اترو لپاره سفر وکړي او بیا وروسته د مذاکراتو د دوام لپاره دغه معافیت په بېلابېلو پراوونو کې تمدید شو.  د بشري او ښځو حقونه هغه مهم مسایل دي، چې د طالبانو سره په هر راز مذاکراتو کې پرې بحث شوی او طالبانو د دواړو حقونو څخه د سرغړونې لپاره یو شمېر پالیسۍ تحمیل کړي دي. پر دغه رژیم د بندېزونو معافیت لرې کول به طالبانو ته رسا پیغام ورکړي چې د امنیت شورا اماده ده، طالب مشرانو د دغو اعمالو په خاطر سزا ورکړي.

- دا چې وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي، یوناما باید خپل فعالیتونه، راپور او عامه ارتباطات د خپل ماموریت پراساس او د افغانستان د خلکو ملاتړ د تضمین لپاره پرمخ یوسي. دې موخې ته د رسېدلو لپاره ترټولو مهمه لار دا ده، چې ټول عامه ارتباطات د ټولنې واقعیتونه منعکس کړي او د دیالوک په نوم د طالبانو د تګلارو او اعمالو د مشروعیت ښودلو څخه ډډه وشي.

---

1 https://www.ohchr.org/en/press-releases/2022/01/afghanistan-taliban-attempting-steadily-erase-women-and-girls-public-life-un
2 https://www.securitycouncilreport.org/whatsinblue/2022/05/afghanistan-consultations.php
For background on the Taliban's position related to education, please see: https://cdn.odi.org/media/documents/taliban_attitudes_towards_education.pdf
3 https://news.un.org/en/story/2022/05/1117762
4 https://news.un.org/en/story/2022/05/1117762
5 https://undocs.org/S/RES/2626(2022)
6 https://www.un.org/press/en/2022/sc14842.doc.htm
7 https://www.un.org/press/en/2022/sc14902.doc.htm

8 BISHNAW, May 2022.

9 https://www.worldvision.ca/stories/child-protection/what-is-happening-in-afghanistan https://reliefweb.int/report/afghanistan/unfpa-scaling-support-save-and-protect-lives-afghan-women-and-girls
10 BISHNAW, May 2022.
11 BISHNAW, May 2022.
12 https://www.theguardian.com/global-development/2022/may/16/afghanistan-further-impoverished-as-women-vanish-from-workforce-taliban
https://www.amnesty.org/en/wp-content/uploads/2021/11/ASA1149682021ENGLISH.pdf
https://www.washingtonpost.com/world/2021/10/21/taliban-women-work-afghanistan/
https://www.theguardian.com/global-development/2022/may/16/afghanistan-further-impoverished-as-women-vanish-from-workforce-taliban

https://www.reuters.com/world/asia-pacific/afghan-women-losing-jobs-fast-economy-shrinks-rights-curtailed-2022-01-20/
https://www.hrw.org/news/2022/01/18/afghanistan-taliban-deprive-women-livelihoods-identity
[13] BISHNAW, May 2022.
[14] https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/012/1996/en/
https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/005/1997/en/
https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/011/1999/en/
http://undocs.org/A/54/422
[15] BISHNAW, August 2021.
[16] BISHNAW, May 2022.
[17] http://undocs.org/S/2022/419
[18] http://undocs.org/S/2022/419
[19] https://ctc.usma.edu/an-assessment-of-taliban-rule-at-three-months/
https://icct.nl/publication/the-public-relations-of-the-taliban-then-and-now/
https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/311-taking-stock-talibans-perspectives-peace
https://www.usip.org/sites/default/files/2020-03/pw_160-taliban_fragmentation_fact_fiction_and_future-pw.pdf
https://www.brookings.edu/blog/order-from-chaos/2021/08/31/will-the-taliban-regime-survive/
https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/the-focus-of-the-talebans-new-government-internal-cohesion-external-dominance/
[20] BISHNAW, May 2022.
[21] https://www.umass.edu/news/article/new-survey-conducted-umass-amherst-human-security-lab-reveals-afghans-views-peace
[22] BISHNAW, May 2022.
https://acleddata.com/2022/04/14/tracking-disorder-during-taliban-rule-in-afghanistan-a-joint-acled-and-apw-report/
[23] http://undocs.org/S/2022/419
[24] https://www.cfr.org/report/countering-resurgent-terrorist-threat-afghanistan
http://undocs.org/S/2022/419